ماخذ تحقیقی مجلہ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26

OPEN ACCESS

CC BY NC

**ثنا گل**

ایم فل اسکالر، شعبہ پشتو، عبد الولی خان یونیورسٹی مردان، خیبر پختون خواہ۔

**ڈاکٹر سید ظفر اللہ بخشالے**

اسسٹنٹ پروفیسر، شعبہ پشتو، عبد الولی خان یونیورسٹی مردان، خیبر پختون خواہ۔

**مس نگینہ بی بی**

لیکچرار، شعبہ پشتو، عبد الولی خان یونیورسٹی مردان، خیبر پختون خواہ۔

# د رځړو ګلونه، پښتو ادبي سباوون یار حسین (صوابی) تذکرې تنقیدي جاج

**Sana Gul** *
MPhil Scholar, Department of Pashto, AWKUM.
**Dr. Syed Zafar Ullah Bakhshali**
Assistant Professor, Department of Pashto, AWKUM.
**Ms. Nagina Bibi**
Lecturer, Department of Pashto, AWKUM
***Corresponding Author:**

# A critical review of Literary Tazkira " Da Razarro Gulona"

Tazkira writing is a very important and special art, and the significance and usefulness of literary Tazkiras cannot be denied in any era. A Tazkira is considered a type of prose in literature which, in general, refers to a composition that contains the introduction, life accounts, and artistic contributions of people associated with a particular field of life. In every period, Tazkira has been regarded as an important literary genre. In the ancient history of Pashto literature as well, the importance of Tazkiras is clearly visible. “Darzhro Guluna” is a Tazkira of Pashto Adabi Sabaun by Yar Hussain (Swabi). This Tazkira “Darzhro Guluna” was published by Abasin Printing Press, Peshawar, in the year 2010, and it was compiled and edited by Adil Pashtunyar, Shad Ali Khan Shad, and Tariq Ali Khil.

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26



In this research paper, a critical review of the Tazkira "Darzhro Guluna" has been taken.

**Key Words:** *Tazkira Writing, "Darzhro Guluna, Pashto Adabi Sabaun, Adil Pashtunyar, Shad Ali Khan Shad, and Tariq Ali Khil.*

تذکره نگاري يو ډېر مهم او ځانګړے فن دے او د ادبي تذکرو اهميت او افاديت نه په هېڅ يو دور کښې انکار ممکن نهٔ دے ـ تذکره د ادب د نثري صنف يو قسم دے چې په عمومي توګه هغهٔ تصنيف ته وئيلے شي چې پکښې د ژوند د يوې شعبې سره د تړلي خلقو پېژندګلو، د ژوند احوال او د فن يادونه شوې وي ـ

"تذکره" د عربی ژبې تکے دے چې د ذکر کولو او يادداشت په توګه راوړي شوے دے ـ مولانا وحيد الزمان قاسمي کيرانوي د "تذکره" معنٰی "يادګار" ليکي[۱] ـ

فرهنګِ آصفيه لغت کښې د "تذکره" په حقله داسې ليکلے شوي دي:

"یاد، یادداشت، بیان، یادگار، تاریخ، واقعات، سرگزشت، سوانح عمری، وہ کتاب جس میں شعراء کا حال لکھا جاتا ہے"[۲]

په اردو تذکره نګاری کښې ډاکټر رئيس احمد د تذکري په حقله خپل تحقيق داسې وړاندې کوي:

> ترجمه: تذکره د عربی ژبې تکے دے او د دې لغوي معنٰی ذکر، ياد، يادداشت، بيان، يادګار، تاريخي واقعات او ژوند ليک وغېره دي ـ خو په عربی، فارسی او اردو ژبو کښې په اصطلاح کښې تذکره هغهٔ کتاب ته وائي چې د شاعرانو مختصر د ژوند حالات او پېژندګلو او د کلام نمونه ورکړے شوي وي."[۳]

تذکره په هر دور کښې يو مهم ادبي صنف ګڼلے شوے دے ـ د پښتو ادب په لرغوني تاريخ کښې هم

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26

د تذکرو اهمیت جوت په نظر راځي ــ د پښتو ادب نه علاوه د تذکره نګارئ روایت په فارسي او اردو ادب کښې هم جوت دے ــ په دې حقله سعید احمد ساحل لیکي:

"په مشرقي ادبیاتو کښې تذکره نګارئ ته ډیر اهمیت حاصل دے او د دې روایت ډېر زوړ او پخوانے دے ــ دې فن ته په خصوصي توګه په برصغیر کښې پاملرنه شوې ده ــ په فارسي، اردو او پښتو کښې په دې حواله د قدر وړ کار شوے دے"[٤]

د پښتو ادب په معلومو تذکرو کۀ یو زغلنده نظر واچولے شي نو په معلوم ادب کښې وړومبۍ تذکره "تذکره الاولیاء" ده چې د سلیمان ماکو تذکره ده ــ او لۀ بده مرغه د دې تذکرې صرف اووۀ پاڼې معلومې دي کومې دې د علامه حبیبي په زیار منظرِ عام ته راغلي دي او د لیکلو تاریخ یې خواؤ شا کال ۶۱۲ھ دے ــ

په دې حواله حبیب الله رفیع لیکي:

"تذکره الاولیاء" تر اوسه د پښتو لومړنۍ تذکره ده چې مونږ یې پېژنو او څو پاڼې یې لاس ته راغلي دي"[٥]

د دې تذکرې په حقله یوه مستنده حواله د عبدالحئ حبیبي ده د هغۀ د وینا تر مخه"

"د پښتو ژبې له پخوانو لیکوالو او نثر لیکونکو څخه چې تر اوسه معلوم شوي دي یو غټ او مقتدر لیکوال سلیمان ماکو دے ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ
دا کتاب متاسفانه چې ټول اوس ورک دے خو لومړي اووۀ مخۀ یې ما تر ۱۳۱۹ ش کال د مخه په قندهار کښې ومونډل"[٦]

د تذکرۀ الالیاء نه وروستو دوېمه پښتو تذکره "تاریخ سوري" ده[٧] ــ

درېمه معلومه تذکره په پښتو ادب کښې "اعلام اللوزي في الاخبار اللودي" ګڼلے کیږي[٨] ــ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26


د تذکرو په لړ کښې یوه مهمه او تر ټولو بشپړه تذکره د محمد هوتک پټه خزانه ده ـ د دې تذکرې په حقله سعید احمد ساحل لیکي:

"په پښتو ادب کښې د محمد بن داؤد هوتک "پټه خزانه" یوه بشپړه تذکره ده چې په ۱۱۴۴صدی هجری کښې لیکلې شوې ده ـ دا تذکره په بنیادي ډول په درې برخو کښې ویشلې شوې ده ـ وړومبۍ برخه په پخوانیو لیکوالانو، دویمه برخه په هم عصرو لیکوالانو او درېیمه برخه په زنانه لیکوالانو مشتمل ده"[۹]

د "پټه خزانه" لیکوال ممد هوتک د دې تذکرې په حقله په خپله داسې لیکي:

"ښکاره دې وي چې له دیرشو کالو راهسي د ډېرو شاعراو د پښتنو احوالونه راټول کړي دي ـ ـ ـ ـ ـ د دې کتاب نوم دئ (پټه خزانه) ځکه چې دلته هغۀ احوالونه راغلي دي چې پټ و او نۀ و ښکاره، خالق تعالیٰ دې ټول مسلمانان وبخښي او زمونږ د پادشاه سیوري دې تل وي او دایم ـ په دغه کتاب چې ما په کښلو ابتداء وکا ورځ وه د جمعې ۱۶ د جمادي الثاي سنه وه ۱۱۴۱ هجري"[۱۰]

د پښتو لیکوالونه علاوه مستشرقینو چې د پښتو ادب ځولې ته کومې بخښنېښنې کړي دي په هغې کښې تذکري هم د یادونې وړ دي ـ د مثال په توګه د مېجر راورټي "ګلشن روه" او "سلیکشن فرام دي پوئټري آف افغانز"، "کلید افغاني" جېمز ډار میسټېټر "د پښتونخوا د شعر هار و بهار"[۱۱]

د مستشرقیو نه وروستو د تذکره نګارۍ رواج عام شوے ښکاري ـ په دې حواله ډاکټر عبدالله جان عابد لیکي چې:

ترجمه: په جدیدي دور کښې د تذکره نګارۍ پېلات د علامه عبدالحئ حبیبي د

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26


> زیار نتیجه ده په "طلوع افغان" کښې د "تاریخچه شعر پښتو" په نامه هغهٔ د تذکره نګارۍ اغاز په ۱۹۳۵ء کښې کړے وهٔ په دې کښې هغهٔ د پښتو د څلور سوه زړو او نوې شاعرانو پېژندګلو وړاندې کړې ده کله چې بیا هغه ته د پښتو ټولنې کابل مشري ورکړے شوه ـــ د "پښتانهٔ شعراء" په نوم یې د زړو شاعرانو د تزکره نویوسۍ یوه منظمه سلسله پېل کړه ـــ د دې وړومبۍ جلد یې په خپله مرتب کړو چې پکښې د سلو شاعرانو احوال او د هغوې د کلام نمونې وړاندې کړې دا په وړومبي ځل په ۱۹۹۱ء کښې د پښتو ټلنه کابل په اهتمام سره چاپ شو"[۱۲]

دغه شان د تذکره نویسۍ یوه نهٔ ختمیدونکې سلسله روانه شوه او په بېلا بېلو وختونو کښې د مختلفو سیمو یا ټولنو تذکرې چاپ کېدل شروع شوې ـــ د تذکره نګارۍ دا لړۍ ډیره اوږده ده ـــ "د رځړو ګلونه" هم د تذکرو د دې لړۍ یوه کړۍ ده ـــ

"د رځړو ګلونه د پښتو ادبي سباؤن یارحسېن (صوابۍ) تذکره ده ـــ د رځړو په حقله جمشېد انجم لیکي:

> " رزړ (رځړ) د مندړ زوې وو ـــ د رځړ څلور زامن وو ـــ ـــ ـــ ـــ ـــ د ملک اولاد په ملک زئ سره یادیږي ـــ دا هم په نورو ګڼو خپلونو کښې تقسیم شوي دي چې په هغوي کښې آله داد خېل، میرداد خېل، کریم داد خېل، اسماعیل خېل وغېره شامل د ـــ دې وخت کښې دا خېلونه او قبیلې په یارحسېن، یعقوبي، بازارګۍ او شېردره کلو کښې اباد دي"[۱۳]

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26
ماخذ تحقیقی مجلہ

دا تذکره "د رڅرو ګلونه" اباسین پرنټنګ پریس پېښور په کال ۲۰۱۰ء کښې چاپ کړې ده چې ترتیب او تدوین یې عادل پښتونیار، شادعلي خان شاد او طارق علي خېل کړے دے[۱۴] ــ

د تذکرې وړوبی ترون په دې ډول دے:

" د هغه پښتنو شاه زلمو او جونو په نوم، د چا پښتنه وینه کښې چې د پت، ښېګړې، توري، وفا او ننګ بخري غورځنګونه وهي"[۱۵]

په وړومبي ترون پسې فوراً یو دویم ترون هم د وړومبي ترون په مخ ځۀ په دې ډول دے:

"د پښتو ادبي سباؤن هغه ټولو مخلصو ملګرو په نوم چا چې د زړه په وینو د پښتو ادبي سباؤن ټولنه تر دې دمه ژوندۍ او ګرندۍ ساتلې ده"[۱۶]

دا تذکره په ۱۸۱ مخونو مشتمله ده ــ او په شاپانه یې د کابینې د غړو تفصیلات په دې ډول ورکړے شوي دي ــ

سرپرست اعلیٰ: حاجي اسرار الدین اسرار (ریټائرډ ډي ایس پي)، صدر سید ګران باچا ګران، نائب صدر: سبز علي غمزده، ستر سېکټر: عادل پښتونیار، کشر سېکټر: جمشېد انجم، خزانچي: شاد علي خان شاد، پرېس سېکټر: همایون شاهین او ادبي مشیر اورنګزېب مجاز[۱۷] ــ په دې تذکره کښې د اوویشتو شاعرانو پېژندګلو او د هغوي د کلام نمونې وړاندې شوي دي ــ د ددغه شاعرانو نومونه دا دي.

اسرار الدین اسرار ، نورالبصر شباب ، سبز علي غمزده ، شاد علي خان شاد، شماس خان خادم ، عادل پښتونیار، همایون شاهین ، خېرالارمان ارماني، سیدالابرار ابرار، سیدالامین بسمل، افتخار علي فرهاد ، عاشق علي عاشق ، سرزمین سندان، شاهد خان شاهد، علي سید سمي، میر اکبر شان، نورالامین دلسوز، ظاهر زمان ظاهر ،

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26
ماخذ تحقیقی مجلہ

ممتاز حسېن صميم ، انعام الرحمن مجبور ، سېد عرب علي علي، جمشېد انجم، طارق علي خليل، ظهور احمد ظهور ، محمدؐ طيب احساس، سېد گران باچا گران ، منېجر وصال محمدؐ خان"[۱۸]

د تذکرې د شاعرانو د فهرست نه پس ثناء او بيا نعت شريف چاپ دے او ورپسې "زما ليک او د رڅرو گلونه" په نوم د حاجي علي بهادر اثر مدير حجره (سلسله وار) ستر سېکتر پښتانۀ ادبي ليکوال صوابی سريزه چاپ ده ــ دوېم تاچرات د اسرار الدين اسرار څوک چې د پښتو ادبي ساؤن يار حسېن سرپرست اعلٰی دے، "خپلې وېنا ته توجۀ غواړم" د سرخط لاندې ليکلي دي او بيا "رڅړ او د رڅړو گلونه" د سرخط لاندې د پښتو ادبي سباؤن يارحسېن کشر سېکتر جمشېد انجم په خپل ليک کښې د رڅړو تاريخ، په شجرۀ نسب او د استوگنې ځاے او د رڅړو دود دستور وغېره په بابله تفصيل وړاندې کړے دے ــ په دې تذکره کښې ټول ټال ۹۵ غزلې، ۱۱۵ نظمونه او پينځه قطعې ورکړے شوي دےــ په نظمونو کښې ثنا، مناجات، نعتونه او يوه چاربېته هم شامله ده ــ کۀ د تذکرې په طبعي حالت حث وکړو نو د کتاب جلد بندې کمزورې ده او د دې نه علاوه داسې ښکارې چې د ټائټل ډيزائيننگ باندې هم خاص توجۀ نۀ ده شوې د دې سره ره د کاغذ معيار هم کمزورے ساتلے شوے دے دغۀ د ټولنې د مالې ستونزې له وجې کېدے شي ــ د ټولنې سرپرست اعلی اسرار الدين په خپله سريزه کښې ليکي چې:

"زمونږ وسائل کم او مسائل ډير دي"[۱۹]

د دې تذکرې د لنډيز وړاندې کولو نه پس د تذکرې تنقيدي جاج پله راځو ــ

د پښتو ادبي سباؤن يارحسېن (صوابی) دا کاوش د ستائيلو وړ دے چې د خپل عصر ليوالان ژوندي ساتل بې شکه د لوې زړه د خاوندانو کار وي ــ او د پښتو ادبي، سباؤن يار حسېن (صوابی)

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26


ټولنه د یو زړۀ چاودون او کړاؤ نه پس ادب ته دا تذکره ډالی کوي ــ په دې حواله حاجي علي بهادر اثر لیکي:

هسې خو د پښتو ادبي سباؤن نوم په خلۀ اخستل اسان دي خو د دې ټولنې تخليق ته په ژور نظر کتو سره به پوهان ګوته په خلۀ پاتې شي ــ پښتو ادبي سباؤن يو ډير لوړ تاريخ لري دا نوم د تورو تيارو او تورتمونو نه راوتے يو حقيقي او روښانه سباؤن نوم دے"[۲۰]

په فکري توګه په دې تذکره کښې د معياري ليک شاملولو هڅې په نظر راځي، مرتب کوؤکو د دې خبرې شعوري کوشش کړے دے چې د معيار نه پرېوتې خيال او ځاے ورنۀ کړي بلکې د معاشري سپېڅلي احساسات د دې تذکري په ذريعه خوندي کړي ــ د مثال په توګه په تذکره کښې شامل کړے شوي اخلاقي نظمونه لکه بندګي، غريب پلار، غريبه لور، د مور په ياد کښې، خپلې مورته وغېره ــ "حقيقت نۀ پټيږي" نظم د اخلاقي درس يو ښائسته نظم دے چې ټول د اخلاقياتو په درس اډانه دے ــ د نمونې په توګه دا شعرونه:

درونده وي کانړے په خپل ځاے باندې چې پروت وي
کۀ بې ځايه شي بې قدره په خپل ځان که[۲۱]

په "بندګي" نظم کښې د خداے احسانات او د دنيا د ژوند د سختو په صبر و تحمل سره د برداشت درس ورکړے شوے دے:

محترم چې يې پېدا کړې په عالم کښې
د خالق د دې انعام نګهبان اوسه[۲۲]

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26


نظم سپرلے هم په فني او فکري توګه ښائسته نظم دے چې منظر نګاري، حسن او رومانویت سره د مینې محبت پېغام ورکوي[٢٣] ـ
په دې تذکره کښې په فکري توګه مذهب طرف ته هم رجان زیات په نظر راځي ـ د تذکرې د فهرست نه پس د سریزو او شعرونه وړاندې د خداے پاک حمد و ثنا په غرض "ثناء" او بیا نعت شریف ورکړے شوے دے چې د مرتب کوونکو مذهبي رجحان په ګوته کوي[٢٤] ـ
هم دغۀ رجحان په "مناجات" او "نعت شریف" په شاملولو نور هم قوي کیږي ـ کۀ د تذکرې په فني اړخ خبره وکړے شي د فن په لحاظ هم دا تذکره په ما د ستائیلو وړ خوبی لري ـ د مثال په توګه د شعري اصنافو د بېلابېلو قسمونو شاملول د دې خبرې دلیل دے چې مرتب کوونکو د ادب د خدمت په جذبه دا تذکره مرتب کړې ده ـ په تذکره کښې څنګه چې وړاندې ذکر وکړے شو، د نظم سهر سره غلزې، قطعات، مناجات وغیره هم شامل کړے شوي دي ـ چې په فکري توګه هم او په فني لحاظ هم دا تذکره یوه بشپړه تذکره ثابتوي ـ
په نظمونو کښې مزاحیه نظم "پیشو" یو مزاحیه نظم دے چې په صنفي اعتبار د تذکرې ارزښت لا سېوا کوي ـ
څنګه چې د ادبي تذکرو یو روایت راروان دے چې د تذکرو د شامل شاعرانو یا ادیبانو شاملولو د یو خاص فارمېټ په حساب وي په تذکره کښې د شاعرانو د کوائفو د اندراج د پاره یو جدول قسم فارمېټ استعمال شوے دے چې پکښې د شاعر نوم، د شاعر د پلار نوم، کلے، چم او عمر اندراج پکښې شوے دے کوم چې د شاعرانو بنیادي پېژندګلو وړاندې کوي ـ
د مذکوره بالا خصوصیاتو نه علاوه دا تذکره څۀ کمی او خامی هم لري چې محض د ادبي تنقید په غرض وړاندې کولے شي ـ څنګه چې اسرارالدین اسرار په خپلو خبرو کښې وائي:

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26



"امېد لرم چې د هرې طبقې او سيمې قاري چې دا کتاب ولولي کۀ غواړي نو مونږ ته به زمونږ کموری او کمی په مناسب انداز په گوته کړي ــ مونږ به د هغوي شکريه ادا کوو او د هغوي د لارښودنې په رڼا کښې به خپله اصلاح اوکړو"[۲۵]

د اسرار الدين اسرار دغه وېنا بې شکه چې د ډېرې ستائينې وړ ده او د ادبي رويې څرګدونه ترې کيږي ــ د تذکرې بنيادي مقصد د يو خاص دور د شاعرانو د کلامونو د خوندي کول وي خو په داسې صورت کښې چې د شاعر پوره پېژندګلو هم وشي د دې مقصد د پاره په عمومي توګه مرتب کوونکے د شاعر د حالات ژوند يوه محتصره خو جامع تبصره وړاندې کوي او عموماً د يو محتصرتوب چې يو پېراګراف يا زيات کېدے شي ــ د شاعر پېژندګلو وړاندې کوي چې نوم، د پلار نوم، تاريخ پېدائش، کۀ مړ وي د وفات نېټه، روزګار تعليمي قابليت وغيره وړاندې کوي ــ په مذکوره تذکره کښې مرتب کوونکے پهد ې حواله د غير سنجيدګی مظاهره کوي او څۀ خصوصي فارمېټ يې نۀ دے ترتيب کړے چې په لوستونکو ډير ښۀ ثر نۀ پرېباسي ــ

د وړومبي شاعر اسرار الدين اسرار په پېژندګلو کښې نوم، د پلار نوم، کلے، چم او عمر ورکړے شوے دے ــ چې لوستونکو ته دا تاثر ورکوي چې دا مندرجات به په راروانه تولنه تذکره کښې هم دغسې برقرار ساتلے شوے وي خو لۀ بده مرغه هم په دې مخ دغه مندرجات چې قاري لولي نو د "چم" په تفصيل کښې حاے خالي پاتې شوے دے کوم چې په اوله سر کښې په لوستوکي ډير بد تاثر پاتې کوي[۲۶] ــ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26
ماخذ تحقیقی مجلّہ

دلته تر ټولو مهمه خبره دا ده چې په تذکره کښې شامل ټول شاعران د يوې علاقې سره تعلق لرونکي دي او مرتب کوونکے هم د دې علاقې دے او په تېرهٔ تېرهٔ د ټولنې تول غړي په ذاتي توګه يو بل پېژني، اسرارالدين اسرار چې د ټولنې سرپرست اعلیٰ دے، د هغه د چم نوم نهٔ ليکل يوه لويه خامي ښکاري چې د نظر انداز کولو جوګه بالکل نهٔ ده ـ

دويمه مهمه خبره دا ده چې شخصي يا داسې پېژندګلو په داسې شکل کښې ورکول په يوه ادبي تذکره کښې ډېره بې خوندي پېدا کوي د دليل په توګه د پېژندګو فارمېټ دلته ارو مرو وړاندي کووم ـ

اسرار الدين اسرار، د پلار نوم سېفور خان، کلے: سوړ هېر
چم
عمر ۷۶ سال[۲۷]

د ادبي تذکري د پاره بائد چې بيانيه طريقه کار خپل کړے شي ـ

دويم شاعر نورالبصر شباب دے د دهٔ د کوائفو په اندراج کښې هم دغه ستونزه مخې ته راځي چې د وړومبي شاعر د ورکړے شوې تفصيلات سره سمون نهٔ خوير بلې د دې مذکره شاعر "عمر" پکښې نهٔ دے ورکړے شوے ـ[۲۸]

د شاد علي خان د عمر خانهٔ خالي پرېښودې شوې ـ شماس خان خادم، عادل پښتونيار، خېرالامان ارماني، افتخار علي، فرهاد علي سيد سمي، مير اکبر شان، ممتاز حسېن صميم، انعام الرحمٰن'مجبور او جمشېد انجم عمرونه نهٔ دي ليکلے شوې ـ

د سيد الاسرار د پېدائش د تاريخ اندراج اود تعليمي قابليت اندراج په وائفو کښې نوي اضافه ده ـ سيد الامين بسمل سره د عهدې تفصيلات هم ليکلي شوي دي ـ

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26

د سرزمین سندان تعلیمي قابلیت درج شوے دے ـ خو د تعلیمي قابلیت خناه خالي پاتې شوې ده او هېڅ قسمه تفصیل نۀ لري ـ شاهد خان شاهد په پېژندګلو کښې په نوي اضافیسره د پېدائش وخت اندراج شوے دے خو لۀ بده مرغه هغۀ ځاے خالي پروتے دے او هېڅ قسمه تفصیل نۀ لري ـ

طارق علي خلیل سره د ټولنې د عهدې اندراج هم د نورو شاعرانو د پېژندګلو متعلق معلوماتو سره تضاد لري ـ

یوه ډېره ناشونې خبره په دې تذکره کښې هغه وخت په نظر راشي چې لوستونکي د سید ګران باچا تر کلامه ورسي د سید ګران باچا د پېژندګلو هیڅ قسمنه هڅه نۀ ده شوې او د دې شاعر کلام داسې ورکړے شوے دے چې د وړومبي کلام په سر د شاعر نوم لیکلے شوے دے ـ بیا ورپسې درې کلامونه په اخره کښې د شاعر نوم درج دے او د پینځم کلام نه بیا اول په سر د شاعر نوم دے او بیا کلام دے چې د تذکرې د مرتب کولو په وخت د مرتب کوونکو په غېر سنجیده رویه یو لوې سوال راپورته کوي ـ[29]

د هجر و صال محمد خان په اړه بیا یوه بله ناشونې خبره مخې ته راشي چې د دې شاعر یو نظم چاپ دے خو په ټوله تذکره کښې دا واحد شاعر دے چې پوره پېژندګلو، عهده او بیا د یاد ګرېنې تر عنوان لاندې یې دوه مخه وېنا چاپ ده ـ هغه څۀ په دې ډول ده ـ

"یادګېرنه"

د خداے بخښلي ځوناي مرګي خوږې لور په یاد کښې دا یو څو ټکي لیکم ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ او زما ځواني مرګه لور دې الله تعالٰی سره د ټولو مسلمانانو اوبخښي آمین ثم آمین

په درناوي

د صال محمد منېجر مسلم کمرشل سینک ځوئي د مرحوم خدائي خدمتګار نایاب خان کاکا

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26
ماخذ تحقیقی مجلّہ

چم جان خپل یارحسېن[۳۰]

بله د ذکر وړ نکته چې کومه په دې تذکره کښې په نظر راځي هغه د ټولني د مرکزي غړو یا عهدېدارانو جانبدارانه رویه ده کومه چې د وصال ﷺ منېجر په کېس کښې په نظر راځي ـ په ادبي تکنیکي فن پارو کښې باید چې د جذباتیت نه کار وانهٔ خستے شي ـ او د غیر جانبدارئ سره د ادب خدمت ترسره کړے شي او کهٔ مرتب کوونکې څهٔ قسمه جانبداري ضروري ګڼي نو باید چې د هغې وضاحت وکړے شي خو په دې تذکره کښې هېڅ قسمه وضاحتي بیان په نظر نهٔ راځي او پرته د دې شاعرانو له یو هومره ځاے هم نهٔ دے ورکړے شوے ـ د دولس شاعرانو پینځه پینځه، د یو شاعر شپږ، د اتهٔ شاعرانو څلور څلور، د درې شاعرانو درې درې، د یو شاعر دوه او د یو صرف یو کلام چاپ کړے شوے دے ـ دا ټول شپږ ویشت شو، پاتې شو اوویشتم د هغهٔ ذکر به جدا کول مناسب وګڼم، اوویشتم شاعر چې په فهرست کښې هم په ۲۷ نمر دے دا ښاغلے جمشېد انجم دے چې د ټولني کشر سېکتر دے ـ پهد ي تذکره کښې جمشېد انجم د نرګسیت ښکار ښکاري هغه داسې چې په تذکره کښې تر ټولو زیات ځاے یې حان له نیولے دے ـ د تذکرې په ابتداء کښې ثناء، په ثناء ورپسې نعت شریف، "رڅېړ او د رڅېړو ګلونه" د سرخط لاندې نهه مخه سریزه او بیا په تذکره خښي په ترتیب ۶ کلامونه چې یو اوږد نظم، یوه چاربېته او دوه غزلې د جمشېد انجم چاپ دي ـ چې په مجموعي توګه یې تر ټولو زیات سپېس نیولے دے ـ د دې خبرې نه هم انکار ممکن نهٔ دے چې د ټولني غړي په حېث په دوه ذمه وارئ او هلې ځلې تر تولو زیاتې وي او دا به یې خپل حق ګڼلے وي خو ۀ به یو وارې بیا هغه خبره وکړم چې د لوستونکو د شک و شبهې د لرې کولو د پاره پکار وه چې وضاحتي نوټ شامل کړے شوے وې ـ

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26

په تذکره کښې يوه بله خامي د کتابت يا کمپوزنګ غلطيانې دي چې د وړومبۍ صفحې نه شروع شوي دي او ځاے په حاے په لاس سمونه (correction)يا د زياتي ټکو په مارکر يا وائټنر (Whitner) ورانول د تکنيکيخاميو ثرګندنوه کوي ــ او داسې ښکاري چې د پروف ريډنګ زړه چاؤدنې محله مرتبينو دومره سنجيده نۀ ده اخستې ځکه دغه غلطيانې په ځاے پاتې شوي دي خو وروستۀ بيا د کتاب چاپ کېدو نه پس يې دې طرف ته پاملرنه شوې ده او په لاسو يې دغه سموونه کړې ده کوم چې يو ښه تاثر نۀ ورکو ــ د مثال په توګه په اغا کښې په صفحه ۲ کښې سموونه کال ۲۰۱۰ء په لاسو ليکلے شوے دے ــ سليم بک سليرز نزدې "زړه" بس اډه يار حسېن کښې زړه په لاسو ليکلے شوے دے ــ هغۀ تکي چې ځاے په ځاے په لاسو ليکللے شوي دي يو څو مثالونو تفصيل يې په دې دول دے:

نحرونو، ادب، کشر سېتر، به، لارو، څۀ خو، ده، زړه وغېره ــ په تذکره کښې داسې ټکي هم شته چې وران کړے شوي دي څۀ مچالونه يې په دې ډول دي ــ

دنيا ته يې رلېړلے، وران کړے شوے دے ــ

په دې غزل کښې څلورم شعر دے چې مصرعې يې په تور مارکر ورانې کړے شوي په دې غزل خښې څلورم شعر دے چې مصرعې يې په تور مارکر ورانې کړے شوي او يوه پوره مصرعه په لاس ليکلے شوې ده ــ مصرعه داسې ده:

هره لحظه مې په اهونو او سلګو تېره کړه[31]

د غزل دريم شعر په لاس وران شوے دے ــ کۀ په تذکره کښې د موجودو کلامونو په فني جزئياتو خبره وکړو نو پهد ې تذکره کښې ښۀ کلامونه هم شته چې د موضوع او فن په لحاظ بهترين دي ــ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26

ريښې ريښې مې شۀ ګرېونا جانانه ستا
کوڅۀ کښې
څومره مې ګران شولول ګزران جانانه
ستا کوڅۀ کښې[۳۲]

ـہ

بېګاه مې ټوله شپه د هجر په لمبو
تېره کړه
لمحه لمحه مې ستا تصوير ته په کتو
تېره کړه[۳۳]

ـہ

شي سپېنلي به درته ټول حسينان
کۀ د حوانۍ په بام خاتۀ دې وکړه[۳٤]

ولې څۀ کلامونه په فني اعتبار لږ کمزوري هم دي ـ چې په تذکره کښې د شاملولو نه دا څرګندونه کيږي چې د مرتبينو مقصد د خپٰلې سيمې يا ټولنې د شاعرانو کلامونه خوندي کول وو ـ د مثال په توګه:

د ممتاز حسېن صميم څلور کلامنوه چې غزل نما دي خو په څلورو شعرونو مشتمل دي کوم چې د يو مکمل غزل په حېث نۀ شي شاملېدے ـ

په دې حقله اسرارالدين اسرار د وېنا تر مخه:

"زمونږ دا ډله د بنا ريې د ادبي ژوند نۀ لري ـ د کلي وال ژوند سره اړه لري ـ زمونږ وسائل کم او مسائل ډېر دي زمونږ علم او فراست د هغوي په مقابله کښې ډير کم دے نو ځکه زمنوږ شري او شعري فکر د دې دواړو اصنافو د علم او شعري قواعدو بحرونو، اوزانونو، طرزِ بيان او حسب منشاء خپل اظهار خيال کښې د هغوي سره سيال نۀ شي کيدے"[۳۵]

خو زما په اند دا د تولنې د سرپرست د اړخه يو کمزورے دليل دے ځکه چې تخليق يو افاقي او قدرتي ورکړه ده دا په هڅ ښاريې يا کليوال ژوند انحسار نۀ لري بلکې کليوال ژوند خو فطرت

ماخذ تحقیقی مجلّہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26

ته د لا نزديکت په وجه د زيات تخليق سبب جوړيږي ــ
په مجموعي توګه دا تذکره پښتو ادب ته په عمومي او د صوابۍ ادبي خلقو د اپره په خصوصي توګه د تذکرو په لړ کښې يوه ارزښت ناکه اضافه ده ــ چې د پښتو مئينان ترې ډير څۀ زدۀ کولے شي او تذکرو په لړ کښې د ادب خدمت او د شاعرانو د ډاډګېرنې په توګه پکار راتلے شي ــ کۀ د مرتب کوونکو لۀ کوا په زکر شوو خاميو په سنجيدګۍ سره په وخت غور شوے وے نو دا د دې نه هم زياته ګټوره او ښائسته ثابتيدے شوه ــ کېدے شي چې د مرتب کوونکو دا د تذکري د مرتب کولو وړومبۍ تجربه وه خو بايد چې د پوهانو نه يې رهنمائي اخستے وے خو بيا هم دوي تذکرې مرتبين او مرستايل د ستائيلو وړ دي ــ
په ادبي فن پارو کښې کمې بېشتے څۀ نوې خبره نۀ ده او هم دا د نوې زدۀ کړو او بهترين پېش رفت سبب ګرځي ــ

## حواله جات


١کيرانوي، مولانا وحيدالزمان، القاموس الجديده، اداره اسلاميات لاهور، جون ١٩٩٠ء، ص٣١٠
٢دهلوي، سيد احمد، فرهنګِ اصفيه، جلد اول، اردو سائنس بورډ، لاهور، ٢٠١٠ء، ص٥٩٩
٣رئيس احمد، ډاکټر، اردو تذکره نګاري، مکتبۀ دين و ادب لکهنؤ، ١٩٩٨ء،ص ٢
٤رئيس احمد، ډاکټر، اردو تذکره نګاري، مکتګۀ دين و ادب لکهنو، ١٩٩٨ء، ص٢
٥ساحل، سعيد احمد، ښاغلي دويم ټوک، د دير پښتو ادبي ټولنې تذکره، اعراف پرنټرز پېښور، ستمبر ٢٠١٨ء، ص١٧،١٨

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26

٦حبیب الله رفیع، د پښتو پخوانی تذکرې، د افغانستان اکادمي و تاریخ او ادب ټولنه، ۱۳۵۰، ص۱
۷سلیمان ماکو، تذکره الاولیاء، مرتب پوهاند عبدالحئ حبیبي،د علامه حبیبي د څېړنو مرکز،۲۰۰۰ء، ص۵
۸حبیب الله رفیع، د پښتو پخوانی تذکرې، ص۱۰
۹هم دغه ،ص۲۰
۱۰ساحل، سعید احمد، ښاغلي دوېم ټوک، ص ۲۲،۲۳
۱۱هوتک، محمد بنِ داؤد، پټه خزانه، پښتو نړیواله مرکه،۲۰۱۶ء، ص۴۴
۱۲ساحل، سعید احمد، ښاغلي دوېم ټوک ص۲۳
۱۳عابد، عبدالله جان، پشتو زبان و ادب کے محتصر تاریخ، ص۳۷۹
١٤جمۀ د انجم، رخړ او د رخړو ګلونه، (مشموله)، د رخرو ګلونه،مرتب، عادل پښتون یار، شاعري علي خان، طارق علي خېپل، اباسین پرنټنګ پېښور، ۲۰۱۰ء،ص ۲۱۰،۲۶
١٥د رخرو ګلونه، مرتب عادل پښتون یار او ملګري، اباسین پرنټنګ پریس ۲۰۱۰ء، ص ۲
١٦هم دغه، ص۳
١٧هم دغه ،ص۳
١٨هم دغه ، ص ۴,۵
١٩هم دغه، شاپانه
٢٠هم دغه ،ص۱۹
٢١هم دغه، ص۱۱
٢٢هم دغۀ ،ص۳۵
٢٣هم دغه، ص۳۷
٢٤هم دغه، ص۴۱
٢٥هم دغه، ص۵۰
٢٦هم دغه، ص۲۰،۱۹

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 4, (Oct to Dec 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-IV)urdu-26

۲۷ ھم دغہ ، ص۳۱
۲۸ ھم دغہ ، ص۴۱
۲۹ ھم دغہ ، ص۱۰۹
۳۰ ھم دغہ ، ص۱۰۴
۳۱ ھم دغہ ، ص۱۷۴
۳۲ ھم دغہ ، ص۲
۳۳ ھم دغہ ، ص۱۹، ۲۹، ۳۰، ۷۵، ۱۱۱، ۱۲۳، ۱۲۷، ۱۴۰
۳۴ ھم دغہ ، ص۲۷، ۷۹، ۹۰، ۹۷
۳۵ ھم دغہ ، ص۷۹